مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۱۹/۱۰/۲۸

# لقمان حکیم

لقمان حکیم ، هاغه روښان ضمیره او با تجربه پیر، د داسی یو کس غلام وو ، چي هغي ډیر غلامان درلودل ، خو دده بادار ته لقمان حکیم د خپلي هو ښیاری ،پوهی فراست او نزاکت پوهیدنی په لحاظ ډیر گران وو .

بادار یي د غلامانو په ډله کي لقمان حکیم ته یو خاص نظر او په تیره ډیره مینه یي ورسره درلودله. تر دي حده پوري چي په دسترخوان به ډوډی راغله نو د لقمان حکیم بادار به ورته لاس نه کاوه چي مگر لقمان به ډوډی خلاصه کړه . ده به د لقمان حکیم وروسته پاتی ډوډی و خوړله، دا هغه لورینه وه چي د لقمان حکیم بادار لقمان حکیم ته د حکمت، پوهی، معرفت او نزاکت پوهیدنی په وجهی یي لقمان حکیم ته درلوده .

یوه ورځي د ده ارباب ته چا یو ختکی د تحفی په توگه راوړه. ارباب یي لقمان ته مخامخ کشیناست او هغه ختکی یی تری تری کړ (قاش قاش) کړ او هره تره یا قاش به یي لقمان ته ورکوله ،لقمان حکیم به هغه تره په ډیر اشتها په ورین تندی او په مزی خوړله ، کله چي د ارباب پام دي ته راواوښته، چي لقمان په ډیرې مزی سره ختکی خوری، نو آخری قاش یی خپل ځان د پاره واخیست، او خپله یي وخوړ ده چي د ختکی قاش صرف خولي ته نژدي کړ، نو پوه شو چي لکه زهر تریخ دی ، او ستونی یي بلکل تریخ شو او حالت یی ورته خراب کړ . ارباب لقمان حکیم ته وویل :

ځرنگه دي دا تریخ ختکی وخوړ؟ ولي د هغي د خوړلو نه دي انکار و نه کړ؟ کولای دي شوای چي عذر او بهانه راوړي یعنی دا تریخ ختکی ونه خوری؟

لقمان په خپل حکیمانه او پند آمیزه انداز کي ورته وویل:

تا په کلونو، میاشتو، ورځو او عمرونو ما ته دیر ډیر مزه داره او خواږه خواږه راکړي او ډیر ډیر دي په خپل مهربانی گانو او لورینو نازولي یم، د انصاف نه ډیره لیري خبره وه چي یو ځل ستا د لاس نه په ترخو می شکایت کړی وای، د حق شناسی او وفا داری رسم دا تقاضا کوله، چي د زهرو په نیشونو هم په خپل خیره کي یا تندی کي گونځی رانه ولم. (زه فکر کوم چي د نزاکت فهمی ، او قدر شناسی د پاره ښه درس همدا وي دا حکایت په خپل وار سره د انسان په ضمیر رڼا خوروی)

سید عبیدالله نادر



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ